مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

فدامحمد نومیر ۲۰۲۱/۰۱/۱۰

# د کوثر جام

خدایه جار مي د سردار مدینې کړې
په کوڅه کې د اشنا مي خاک ایرې کړې

مال او ځان مي صدقه یي تر ښایست سه
په نصیب مي د یثریب د ښار کوڅې کړې

چي جارو په بانوګانو یي کړم خلي
مینجور مي د جنتي بقیې کړې

شمس ، قمر چي یي له حسن څه شرمیږي
د یار څنګ ته مي په برخه ورځې ، شپې کړې

که مي یو ځلي دیدن ورسره وسو
د کوثر په جام پوره مي ټول اسرې کړې

یو احد ته نومیر سر ایښئ په ځمکه
ساتندوی مي د توحید د عقیدې کړې

ډیسمبر 19 -2020
متحده ایالات ، جنوبي کلفورنیا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ